## د ټاکنیزو سیالیو د دورې لایحه

**مبنی**

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) تصویب شو.

**موخه:**

دا لایحه د ۱۳۹۳ کال په ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د نوماندانو، سیاسي ګوندونو او ټلوالو اړوند چارې د ټاکنو قانون د (۴) مادې (۱۶) فقرې (۸)، (۴۸)، (۵۰)، (۵۱)، (۵۵) مادو او د (۶۸) مادې (۳) فقرې حکمونو ته په پام تنظیموي.

**د ټاکنیزو سیالیو موده**

**لومړی ماده:**

د ټاکنیزو سیالیو موده په لاندي ډول ده:

1. د ولسمشري نوماندانو لپاره (۶۰) ورځې.
2. د ولایتي شوراګانو نوماندانو لپاره (۳۰) ورځې.

دا موده د ټاکنو له ورځې څخه (۴۸) ساعته دمخه پایته رسیږي.

**د ټاکنیزو سیالیو وخت**

**دویمه ماده:**

کمیسیون د ټاکنو قانون د (۴۳) مادې (۲) فقرې ته په پام له ټاکنو څخه لږ ترلږه (۱۲۰) ورځې دمخه په ټاکنیز تقویم کې د ټاکنیزو سیالیو د پیل او پای وخت معلوموي او ټولو ته یې رسوي.

**د ټاکنیزو سیالیو اړوند شرایط**

**دریمه ماده:**

(۱) نوماندان، سیاسي ګوندونه او ټلوالي کولی شي په ټاکلي وخت کې د غونډو جوړول، د رسنیو له لارې د تبلیغاتو او د ټاکنیزو سیالیو نورې قانوني لارې اړوندو اصولو ته په پام مخته بوځي.

(۲)نوماندان، سیاسي ګوندونه او ټلوالي د نوماندانو د وروستي نوملړ د اعلانولو او د ټاکنیزو سیالیو د پیل په خلا کې ټاکنیزې سیالۍ (غونډې جوړول، په انځوریزو، چاپي او غږیزو رسنیو کې د خپلو سیاسي تګلارو د اعلان، کمپاینونو په موخه حضور نه شي لرلې او نه هم خپل پوسترونه او بیلبورډونه چاپ او خپرولی شي) نه شي کولی.

(۳)نوماندان، سیاسي ګوندونه، ټلوالي او پلویان یې د نورو ګوندونو یا نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو په چارو کې مداخله نه شي کولی. د هغوی د فعالیتونو مزاحمت باید ونه کړي او نه یې مخه ونیسي.

(۴)د ټاکنیزو سیالیو پروګرام باید د عامو خلکو د ځورولو او پاذابولو لامل نه شي.

(۵) نوماندان، سیاسي ګوندونه او ټلوالي د وسله والو ځواکونو لکه د کورنیو چارو ، ملي دفاع وزارتونو، ملي امنیت ریاست کارکوونکو ته په خپلو ټاکنیزو سیالیو کې د ګډون زمینه برابره نه کړي. امنیتي ارګانونه هم نه شي کولی د نوماندانو، سیاسي ګوندونو او ټلوالو په ټاکنیزو سیالیو کې مداخله وکړي.

(۶)نوماندان، سیاسي ګوندونه او ټلوالې نه شي کولی چې د بهرنیو هېوادونو وګړو او بنسټونو ته د خپلو ټاکنیزو سیالیو اړوند فعالیتونو کې بلنه ورکړي او هغوی ته په دغه ډول فعالیتونو کې د ګډون زمینه برابره کړي او همدارنګه بهرني بنسټونه او وګړي د نوماندانو په ټاکنیزو سیالیو کې ګډون نه شي کولی.
(۷) نوماندان باید په ټاکنیزو سیالیو کې له هغه څه ډډه وکړي چې د تاوتریخوالي د هڅولو او د خلکو د احساساتو د پارونې لامل کېږي. یانې قومي، ډله ییز، مذهبي، ژبني، سیمه ییز، جنسیتي او نور تبعیضونه را ونه پاروي.
(۸)هیڅوک نه شي کولی هېوادوال د نوماندانو په ټاکنیزو سیالیو کې ګډون یا نه ګډون ته اړ کړي.

**<u>د ټاکنیزو سیالیو حدود</u>**

**څلورمه ماده:**

1. نوماندان ،سیاسي ګوندونه، ټلوالې او پلویان دي د ټاکنیزو سیالیو اړوند چارې د هېواد نافذه قوانینو، د کمیسیون تصویب شویو لایحو او د چلند اصولو ته په پام تنظیم کړي.
2. د ټاکنو قانون، دې لایحې او د کمیسیون اړوند د چلند اصولو څخه هر ډول سرغړونې ته ، د رسنیو کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون رسیدګي کوي.

**<u>د ټاکنیزو سیالو په جریان کې له سرچنیو څخه ګټه اخیستل</u>**

**پنځمه ماده:**

(۱)د ټاکنیزو سیالیو په جریان کې د عامه پوهاوي په موخه دولتي رسنۍ (تلویزون، راډیو او چاپي رسنۍ) د خپل کاري پروسیجر سره سم د نوماندانو کړنلارې، نظریات او موخې په مساوي ، عادلانه او ناپېیلي توګه خپروي.
(۲)نوماندان، سیاسي ګوندونه او ټلوالې نه شي کولی د ټاکنیزو سیالیو په جریان کې له عامه ملکیتونو او شتمنیو څخه ګټه واخلي. مګر دا چې واکمن مقام ټولو نوماندانو ته مساوي اسانتیاوې برابرې کړي.
(۳)نوماندان نه شي کولی له بهرنیو وګړو یا دولتونو څخه او یا په افغانستان کې د بهرنیو هېوادونو له سیاسي نمایندګیو څخه مالي یا تخنیکي مرستې ومني او یا یې ترلاسه کړي.

**<u>د ټاکنیزو سیالیو په چارو کې د دولتي ادارو او مسوولینو نه مداخله:</u>**

**شپږمه ماده:**

الف: د دولتي ادارو مسوولین باید د ټاکنیزو سیالیو په جریان کې لاندې ټکي مراعات کړي:
۱: په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو اړوند چارو کې مداخله نه شي کولی، له هغو مواردو څخه په استثنا چې رسماً د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري له هغوی څخه غوښتنه وشي.
۲: نوماندانو یا ځانګړي نوماند ته استثنایي شرایط، اسانتیاوې، امکانات او دولتي سرچینې نه برابروي.
۳:د غونډو، ویناو او د ټاکنیزو سیالیو اړوند یا ورته نورو چارو کې چې د قانون په چوکاټ کې تنظیم شوي ، ممانعت ونه کړي یا د هغو په سازمان او تنظیم کې د ځانګړي نوماند یا نوماندانو په ګټه مرسته ونه کړي.
۴: له ځانګړي نوماند، سیاسي ګوند او ټلوالې څخه ملاتړ ونه کړي او یا د ټاکنیزو سیالیو اړوند فعالیتونو د پرمخ بېولو لپاره ځانګړې اسانتیاوې یا شرایط برابر نه کړي.
۵: د هېواد په ښارونو او ولایتونو کې خپل رسمي سفرونه د ځانګړي نوماند یا نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو له جریان سره یو ځای نه کړي.
۶: دولتي چارواکي د دندې پرمهال د ځانګړي نوماند یا نوماندانو په محفلونو او غونډو کې ګډون ونه کړي.
۷: دولتي ځایونه د نوماندانو یا ځانګړي نوماند د تبلیغاتي مرکز په توګه ځانګړی نه کړي او یا له هغو څخه د نوماندانو د ټاکنیزیو سیالیو اړوند غونډو او محفلونو لپاره ګټه وا نه خلي.
۸: په ورځپاڼو او ټولو دولتي رسینو کې له نوماندانو یا ځانګړي نوماند سره د مرستې په موخه د دولت په لګښت تبلیغات ونه کړي.

۹: د نوماندانو د تبلیغاتي موادو د له منځه وړلو او یا راټولولو څخه ډډه کول، مگر هغه چې قانون یې حکم کړی وي.
ب: هغه نوماندان چې دولتي دندې یا د ولایتي شورا غړیتوب لري او دټاکنو قانون پر بنسټ له نوماندي څخه دمخه له خپلې دندې څخه په استعفا مکلف نه وي، د ټاکنیزو سیالیو پرمهال دې دغه مواردو ته پام وکړي:
۱: له خپل مقام او دندې څخه د ټاکنو پر پایلو یا بهیر د اغېز لرلو لپاره گټه وانه خلي.
۲: د عمومي اسانتیاو ، ټولگټو پروژو ، استوگن ځایونو برابرولو او نورو اړوند غونډو کې مستقیم گډون ونه کړي.
۳: د ټاکنیزو کارکوونکو په چارو کې مستقیمه یا غیر مستقیمه مداخله ونه کړي.
۴: خپل داخلي رسمي سفرونه د ټاکنیزو سیالیو اړوند فعالیتونو سره هم مهاله نه کړي.
۵: له دولتي سرچینو او اسانتیاو څخه د ټاکنیزو سیالیو په موخه گټه وانه خلي، مگر دا چې نورو نوماندانو ته هم هغه امکانات برابر شوی وي.
۶: د ټاکنو په پروسه د اغېز لرلو په موخه له خپلو واکونو څخه د هدیې، پور او بخششي ورکولوڅخه کلکه ډډه وکړي.
۷: په رسمي کاري ساعتونو کې د غونډو، جلسو او اړوندو هغو فعالیتونو له تنظیم څخه ډډه وکړي چې د ټاکنو پر پایلو د اغېز لرلو لپاره یې د افرادو یا گروپونو د پام ور اړولو لپاره کوي.
۸: له دولتي ورځپاڼو او رسنیو څخه په دولتي لگښت د خپلو تبلیغاتو او ټاکنیزو سیالیو لپاره گټه وانه خلي.

**د ټاکنیزو سیالیو د پای دوره**

**اومه ماده:**

د ټاکنیزو سیالیو دوره د ټاکنو د ورځې له پیل څخه ( ۴۸) ساعته دمخه پایته رسېږي. نوماندان، سیاسي گوندونه او پلویان یې نه شي کولی د ټاکنیزو سیالیو د مودې له پایته رسېدو وروسته خپلو مبارزو او سیالیو ته دوام ورکړي او یا د ټاکنیزو سیالیو اړوند مواد ووېشي او یا یې خپاره کړي.

**د ټاکنیزو سیالیو مواد:**

**اتمه ماده:**

(۱).نوماندان، سیاسي گوندونه، ټلوالي او پلویان یې د ټاکنیزو سیالیو پرمهال د دغو مراتبو په مراعتولو مکلف دي:

- نوماندان په ټاکنیز تقویم کې له رسماً اعلان شوې نېټې دمخه ټاکنیزې سیالۍ (رسنیزې، اعلانونه او غونډې) نه شي کولی.
- د کمیسیون یا ټولو دولتي ارگانونو د سمبول څخه په ټاکنیزو سیالیو کې گټه نه شي اخیستلی.
- نوماندان د خلکو ملکیت محترم بولي او پر خصوصي املاکو د تبلیغاتي موادو له لگولو، لیکلو او رسمولو دمخه دې له هغوی اجازه واخلي، ځکه له دې املاکو څخه د هغه د خاوند له خوښې پرته گټه نه شي اخیستلی او ډډه دې ترې وکړي.
- نوماندان د تبلیغاتي موادو (پوسترونه او عکسونه)د نښلولو لپاره له سریښ څخه گټه نه شي اخیستلی.
- نوماندان په خپلو ټاکنیزو سیالیو کې د ښارونو اوځایونود ښکلا او پاکوالي په موخه کولی شي له بلبورډونو، بنرونو، پل ساینونو او LCDTV څخه اعظمي گټه واخلي.
- نوماندان نه شي کولی د ټاکنیزو سیالیو مواد چې د تحریک، تاوتریخوالي او د احساساتو د پارونې (قومي، ډله ییزو، مذهبي، ژبنې، د سني او معلولیتي) لامل کېږي نندارې ته وړاندې یا خپاره کړي.

(۲) د کمیسیون او ښاروالیو موظف کارکوونکي کولی شي د کمیسیون له لارښوونې سره سم د ټاکنیزو سیالیو اړوند تبلیغاتي مواد چې له دې مادې سره په ټکر کې وي له نصب شویو سیمو څخه لیرې کړي.
(۳)څارونکي نه شي کولی د رای ورکولو د پروسې د څارنې په وخت کې دننه د رای ورکولو په محلونو کې د نوماند، کمیسیون او ټولو دولتي ادارو له نښان، سمبول، د شعار رنگ، عکس او نورو اړوندو نښو څخه د ټاکنیزو سیالیو په موخه گټه واخلي.

(۴)د نوماندانو له لوري د پورتنيو مواردو د نه مراعتولو په صورت کي سياسي ګوندونه، ټلوالي او پلويان يي ، کميسيون نوماند، سياسي ګوند، سياسي ټلواله او يا پلويان يې د سرغړونکو په توګه موضوع ته د رسېدني لپاره رسماً اړوندو مراجعو ته ور پېژني.

**د ټاکنيزو سياليو د جريان کتنه**

**نـهمه ماده:**

(۱)ټاکنيز کار کوونکي ، د کتونکو بنسټونو ، کورنيو او بهرنيو رسنيو استازي د ټاکنيزو سياليو جريان کتلی شي. نوماندان او سياسي ګوندونه بايد د ټاکنيزو کارکوونکو، کتونکو بنسټونو، کورنيو او بهرنيو رسنيو استازو ته د ټاکنيزو سياليو د کتني زمينه برابره کړي.

(۲)نوماندان، د سياسي ګوندونو استازي او د هغوی پلويان تر هغو چې د يادو کسانو فعاليتونه د دې مادې په ( ۱) فقره کې د ټاکنيزو سياليو له جريان څخه کتنې پورې محدود وي، نه شي کولی د هغوی د فعاليت پر وړاندې خنډ پېښ کړي.

**<u>سرغړونه</u>**

**لسمه ماده:**

په دې لايحه کې د وړانديز شويو اصولو څخه د سرغړونې په وخت کې د دولتي مسولينو، نوماندانو، ګوندونو او سياسي ټلوالو په وسيله موضوع د وروستيوپړاوونو د ترسره کولو لپاره د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته راجع کوي چې ممکن په ځينو حالاتو کې د يو نوماند د نوماندی د صلبولو لامل هم شي.

**<u>انفاذ</u>**

**شپږمه ماده:**

دا لايحه د تصويب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.